AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبريالانو د خونديتوب کميته

# رسنۍ په اونۍ کې/ د نومبر دويمه اونۍ

تيره اونۍ مو د هيواد له بيلابيلو ولايتونو د بيان د ازادۍ، خبريالانو او رسنيو د وضعيت په اړه ډول ډول رپوټونه درلودل. دلته په مفصله توګه د زونونو او ولايتونو له مخې ورباندې بحث کوو.

## ختيځ

په دې وروستيو کې له هغې وروسته چې داعش ډلې په ننګرهار ولايت کې خپل بريدونه زيات کړي، خبريالانو او رسنيو ته يې هم ګڼې اندېښنې را پيدا کړې دي. د افغان خبريالانو د خونديتوب کميټې استازي په همدې خاطر د اطلاعاتو او فرهنګ له رييس سره ناسته ترسره کړه او د خبريالانو او رسنيو د کار کونکو پر خونديتوب يې ټينګار وکړ.

هغه همدا راز د اطلاعاتو او فرهنګ له رييس نه وغوښتل چې په دغه ولايت کې د پژواک خبري آژانس او طلوع ټلويزون د خبريالانو پروړاندې د تاوتريخوالي قضيه چې په اګست مياشت کې پيښه شوې وه او هم د جاج نيوز او طلوع نيوز د خبريالانو د وهلو او کمرې د ماتولو قضيه چې په دې وروستيو کې پيښه شوې وه په سمه توګه وڅيړل شي. د افغان خبريالانو د خونديتوب کميټې د استازي ټينګار دا و چې بايد د پيښې عاملينو سره قانوني چلند وشي.

د ننګرهار ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رييس ددغو دوو پيښو له امله يوځل بيا ددې ولايت  له خبريالانو او رسنيو بخښنه وغوښته او ژمنه يې وکړه چې دغه قضيې به په جدي توګه څيړل کيږي او له عاملينو سره به يې قانوني چلند کيږي.

د ننګرهار د اطلاعاتو او فرهنګ رييس دغه راز د افغان خبريالانو د خونديتوب کميټې د استازي د دې غوښتنې په ځواب کې چې ټولو حکومتي ادارو ته دې ويندويان وټاکل شي وويل چې دغه کار به هم په نږدې راتلونکې کې وشي. هغه دغه راز وويل چې اوس مهال که خبريالان له هرې حکومتي ادارې څخه د معلوماتو او ياهم مرکې د ترلاسه کولو برخه کې اړتيا ولري نو دوی به ورسره د همغږۍ برخه کې مرسته وکړي.

## مرکزي زون

**باميان:** په باميانو ولايت کې نږدې اتيا سلنه خبريالان او د رسنيو کارکونکي وزګار شوي دي. له دې سره له نيکمرغه په باميانو ولايت کې نسيم په نامه راډيو، ملي راډيو ټلويزون او باميان ټلويزون خپلې خپرونې بيرته پيل کړې دي.

**دايکنډي:** تيره اونۍ په دغه ولايت کې، يوازې ملي راډيو او ټلويزون خپلې خپرونې له سره پيل کړې دي، څو محدود ساعتونه خپرونې لري او ترډيره د مرکز خپرونې ريليز کوي.

د نويو شرايطو په راتلو سره په دايکندي ولايت کې شاوخوا ۳۰ تنه خبريالان او د رسنيو کارکونکي وزګارشوي وو چې په دې وروستيو شپو ورځو کې د ملي ټلويزيون د خپرونو پيل سره ۵تنه يې بيرته خپلو دندو ته ستانه شوي دي. د دايکندي د اطلاعاتو او فرهنګ رياست رسنيو ته ويلي دي چې خپلې خپرونې بايد د قرانکريم په تلاوت سره پيل کړي او د خپرونو په جريان کې دې نعتونه او اسلامي مطالب خپروي او په ټوله کې بايد خپرونې له اسلامي اصولو سره برابرې وي.

## د کابل شمال

**پنجشير:** په پنجشير ولايت کې د رسنيو وضعيت ښه نه دی او لاهم مخ په خراپيدو دی. خراسان راډيو خپرونې نه لري، کچکن راډيو هم کيدای شي د اقتصادي ستونزو له امله وتړل شي. د وږې مياشت کې وروسته له هغې چې دغه ولايت سقوط وکړ، زياتره خبريالانو او د رسنيو کارنکو دغه ولايت پريښی او د امنيتي او اقتصادي ستونزو له امله تراوسه بيرته پنجشير ته نه دي راستانه شوي.

## شمال

**بلخ:** تر اوسه هيڅ يو دولتي اداره وياند نه لري او ډير لږ مسوولين حاضريږي چې رسنيو سره خبرې وکړي چې دغه حالت پخپله د معلوماتو د رسونې پروسه له ستونزو سره مخ کړې ده.

په بلخ ولایت کې د ۱۱تلویزیونونو او ۱۳راډیوګانو له جملې نه اوس یوازې یو تلویزون او څلور راډیوګانې خپرونې لري او نور یې د اقتصادي ستونزو له امله تړلې دي.

## شمال ختیځ

**کندز ولایت:** مهمه مسله اقتصادي ستونزې او د جریمو نه معاف کېدل دي، چې د رسنیو مسوولین یې په جدي توګه اندېښمن کړي او ددې وېره شته چې ګڼې رسنۍ په کندز کې وتړل شي. په وروستیو اونیو کې کومې رسنۍ بیرته خپلې خپرونې نه دي پیل کړي.

**تخار ولایت:** له بدغه مرغه تیره اونۍ هم په تخار ولایت کې د رسینو د خپرونو د دریدو خبر ورکول شوی دی. له یو څو رسنیو پرته چې د ورځې شپږ ساعته خپرونې لري او یو یا دوه کسه کارکونکې پکې کار کوي نور د رسنیو مطلق اکثریت کارکونکي وزګار شوي او یوشمیر یې له دغه ولایت څخه د باندې ژوند کوي.

**بدخشان ولایت:** دلته یوشمیر رسنۍ د امارت له پالیسیو سره سم خپرونې کوي. خو د هغو پینځو رسنیو له جملې نه چې خپرونې یې دریدلې یوې یې هم بیرته خپلې خپرونې نه دي پیل کړي.

## جنوب شرق

لوګر: تیره اونۍ په لوګر ولایت کې کومې رسنۍ خپلې خپرونې نه دي درولې او نه هم کومې تړل شوې رسنۍ خپلې خپرونې بیا پیل کړې دي. د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې ولایتي همکار د رسنیو له یو شمیر سیمه ایزو همکارانو سره یو ځای د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس سره وکتل. په دغه غونډه کې د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د فعالیتونو ستاینه وکړه او د کمیټې له مسوولینو څخه یې وغوښتل چې خپل عادي فعالیتونه د خبریالانو د خوندیتوب او مسلکي ښوونیزو دورو په برخه کې پراخ کړي. هغه وویل چې د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د فعالیتونو او هڅو ملاتړ او درناوی کوي.

د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس رفیع الله صمیم د کمیټې همکار ته ډاډ ورکړ چې دغه ولایت کې به د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالي ټولې قضیې په جدي توګه څیړل کیږي او تعقیبیږي به. په لوګر ولایت کې د سیمه ایزو رسنیو مسوولینو او خبریالانو هم د افغان خبریالانو خوندیتوب کمیټې نه وغوښتل چې خپل روزنیزاو د خوندیتوب ورکشاپونه او پروګرامونه په دغه ولایت کې پراخ کړي.

**پکتیا:** په پکتیا ولایت کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې همکار ددغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس سره وکتل او ددغه ولایت د خبریالانو د ستونزو په اړه یې ورسره خبرې وکړې. د کمیټې همکار د اطلاعاتو او فرهنګ له ریاست نه وغوښتل چې خبریالانو سره دې اطلاعاتو ته د لاسرسي برخه کې همکاري وکړي. د کمیټې د همکار ددغې غوښتنې په ځواب کې د اطلاعاتو او فرهنګ رییس وویل چې له ټولو حکومتي ادارو سره به همغږي وشي ترڅو خبریالانو ته اړین معلومات په وخت سره او په دقیقه توګه ورکړي.

هغه همداشان وویل چې په نږدې راتلونکې کې به د پوهنې او ملکي ادارو د مطبوعاتو برخې مسوولینو ته روزنیز ورکشاپونه جوړ شي چې څنګه خبریالانو سره معلومات شریک کړي.

تیره اونۍ هم خبریالان او رسنۍ د پخوا په څیر اقتصادي، د خوندیتوب او معلوماتو ته د نه لاسرسي برخه کې له ستونزو سره مخ وو. خو تیره اونۍ بیا مثبت ټکی له یوشمیر حکومتي مسوولینو سره د خبریالانو او د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د استازو لیده کاته او د رسنیو او خبریالانو د ملاتړ او هغوی سره د همکارۍ په اړه د حکومتي مسوولینو ژمني وې.